شهسوارسنګروال

۲۰۱۹/۰۷/۰۴

# سیستان، پارت، خراسان او افغانستان

## (د خراسان خارجي وجود او جغرافیوي حدود!؟)

### ۱ ـ لرغونی سېستان:

جورج پترېټ په دې اندډی،چې د سېستان ډېرلرغونی نوم ؛زره ،وو؛چې یونانیانواولاتین تاریخپوهانوددرنګیانا په نوم یادکړی دی.
دداریوش په ډبرلیک کې زارانکا کښل شویدی ،چې په راوروسته کې نیمروزوبلل شو...
دسېستان نوم له بېلابېلوویپونواونومونوسره تړاو لري ،چې
موږسېستان،سکستان،سکیتیان،ساکان،سکه،ساک،سهاک،زرنج،سجستان،زرنګ،سکزي،زرنګانا،نیمروزاونوردسار ي په توګه یادولی شو..
یاقوت حموي وایي،له کشمیر نه دسېندترغاړې بیا دعرب ترسمندرګي پورې دغه ځمکه دسېستان دوګړوپه ولکه کې وه ....
یوشمېرتاریخپوهان دغه سیمه دلرغوني اریانا شپاړسمه ناحیه،خوپه اوستا کې یولسمه ناحیه بلل شویدی ..
هغه مهال چې ساکانیوه لویه ټولواکمني جوړه کړه،سکستان یاسیستان ډېرنامتو سواو..
دمحمدتقي بهارخبره سېستان،سکستان دی اومخکې ترهغې دسېستان نوم زرنګا وو...دسېستان په تاریخ کې دزرنګ ښارداستوروي تاریخ،دکیسو،افسانواوداستانونوټاټوبی ګڼل شوی دی ..
حمیداله مستوفي انګېري،چې دزرنګ ښارګرشاسپ ودان کړی دی اوزرنګ یې وباله ،چې وروسته عربانوپه زرنج یادکړ..
له دې لنډې یادونې بربېښي،چې سېستان اوږ تاریخ لري ...اودلوې خراسان افسانه ددغې سیمې په تاریخي دب دبې اولرغوني شتون سیوری نشي غوړولی ،داځکه،چې دغې سېمې له لرغونې زمانې نه راواخله دعربوتربریدپورې خپل خومره والی اوځرنګوالی خوندي کړی دی.
داسکایي قبایلوبېلابېلې قبیلې اوخپلونه،چې موږدساري په توګه ؛ازي یي؛اوساکاروي؛یادولی شو...په دغه پراخه سیمه کې ودان وو،چې هخامنشېانودوئ ساکا بلل،اثوریانودوېته اشکوزي وېل،خوپه اوستاکې د؛توریا؛په نامه یادشوي دي ..
ددوئ نامتوپاچا؛ازس؛(58م ز)له سېستانه نیولې ترارغندابه اوهمغسې ترپنجابه پورې دیوه سترحکومت بنسټ کېښود اسکایان، پارتیان، پهلوایان... په خپلوکې سکني تربوران دي او د پهلوایانو نامت وواکمن او موسس؛ ونوس؛ نومېده (120م ز)، چې په سېستان او اراکوزي باندې سلطنت کاوه ..
له پهلوایانوسربېره دساکانویوبل نږدې تربور؛پارت؛(وروسته پارتیان)،چې په اصل کې باختریان ول،دباخترپه لویدیځ اوداوسني ایران په شمال کې دواک اوځواک څښتن ول ..
ددوئ دواکمنۍ په تړاوبه وروسته وغږېږواوس راځودیته،چې دعربودیرغل په مهال څه پېښ شول؟په دې به وغږېږواودسېستان نخش ته به په لنډه توګه تم شو ..

### ۲ ـ سیستان په اسلامي پېرکې:

له اسلامي پېرنه دمخه اووروسته دسېستان په اړه اوږدې څرګندوني شویدي د؛عجایب المخلوقات؛لیکوال ،سېستان دخداي دنعمتونوټاټوبی ګڼلی دی.
ابن فقیه،دغه لویه اوپراخه سیمه دلرغونوڅرګندونوپه رڼاکې دسېستان په نامه یاده کړې ده ..



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مېسوبارتولد،وايي ښايي ساكان په مخزېږدي اوومې پېړۍ کې سېستان ته راغلي وي ...ابن حوقل دسېستان په مشهوروښارونوکې دزرنج،بست،بالشرخج،بلدي داوريانې ميناداور،بغنيز،خلج يانبغرج،بشلنګ،خاش،قرنين،طاق فره،سروان اوزلقان يادونه کړې..
داسلام دخپرېدوپه مهال په دې لرغونې خاورې برهمن واکمنو،چې تاريخ کې درتبيل شاهانوپه نامه نامتوول واک چلوه ..
ددې لړۍ پاچايان دتاريخ په اوږدوکې دتورکانو،ساسانيانو،هنديانواوعربانودبريدونوپر وړاندې دريدلي دي اودسېستان له هامون ترکابله اوان دسپندتروادي پورې،خپل واک اوځواک ساتلی وو..
هغه مهال،چې حضرت عمرداسلامي خلافت واګې خپلې کړې،دابوعبيده بن ثقفي په مشرۍ اوبيا وروسته دسعدبن وقاص په قومنده،عرب جنګياليودساسانيانوشاهي مانۍ اودبدبه رانسکوره کړه.
دربېم يزګرددنهاوندله جګړې(20هجري)وروسته مخ په ختيځ راخلاص شوځواکونه يې په نېشاپورکې ځاې په ځاې کړل اوبيا يې دماورالنهرله خاقان څخه پوځي مرسته وغوښته . ده په21هجري خپل پوځ پياوړی کړ...خوعرب جنګياليوديزدګردنيولوپه پلمه افغانستان ته راغلل اودوه پوځي جبهې پرانستې،لومړۍ جبهه يې ،نيشاپوراومروې ترمينځ(خراسان) اود ويمه جبهه يې په سېستان کې ترارغنداوناوې پورې وغوځوله..
دحضرت عثمان دخلافت په مهال احنف بن قيس له هرات نه تر مروې پورې پوځي چارې څارلې اوځواکونوته يې سپا رښتنه وکړه چې باخترته مخه کړي،چې هغوهم په مروه کې ديزدګرد درې زره کسېزپوځ ته ماته ورکړه ...ولې دسېستان په پوځي جبهه کې له سېستانه تربست پورې عبداله بن عميرليثي دواک خاوند وو .دلېږدي په دېرشمه ربيعه بن زيادسېستان ته راولېږل شواودپهره يا فهرج زالق يا جالق ترکابوکولووروسته له هلمنده پورېووت اوزرنج ته څېرمه ددرشت په سيمه کې ديوې خونړۍ جګړې په ترڅ کې اپرويز(ايران درستم زوې)يې سولې ته رامات کړاوعربوزرنج لاندې کړ..
بل لورته عرب جنګياليوپه خراسان کې سياسي اوپوځي ځواکمنتيا ترلاسه کړه...که څه هم په مرو،باختراوتخارستان کې عربوغوښن پرمختګ ونکړ،ولې بياهم دسېستان جبهه دخراسان دپوځي اوسياسي جبهې سره توپيردرلود،ځکه چې سېستانيانودربيع له خواتاکل شوی عرب ؛حارثي؛له سېستانه وشاړه ،نوهغه ووچې اميرالمومنين داپلاعبدالرحمان بن سمره له يوه سترپوځ سره راغی اوحسن بصري دزرنج ښارکلابند کړخودې پيښې ډېر دوام ونکړ،ځکه چې دحضرت عثمان له شهادت نه وروسته عبدالرحمان بن سمره بصرې ته لاړاودزرنج چارې اميربن احمرته پرېښودې اوسېستانيانوبيا پاڅون وکړ،اميربن احمروتښتېد اودسېستان وګړوخپلواکي اعلان کړه ..
يودبل پسې دحضرت علي،اميرمعاويه له امويانوراواخله ترعباسيانوپورې ګڼ شمېرعربي سرداران واليان اوجنګيالي سېستان ته راولېږل شول،چې موږربيع الحارثي،عبادبن زياد،يزيدبن زياد،عبدالعزيزبن عبداله عامرموسا بن طلحه يوشمېرنوردساري په توګه يادولی شوخوهېچا سېستان ايل نکړ...ان تردې چې دحجاج اوعبدالرحمان بن اشعث ترمينځ داسې پيښې رامينځته شوې،چې له سېستانه ترکابله پورې دخلکوپاڅون ان په خراسان هم اغيزه وکړه ....
ددغوپيښوپايلې اوغبرګونونه دومره غوښن شول،چې حجاج دعبدالرحمان بن اشعث دککرۍ په بدل کې دسېستان واکمنۍ رتبيل ته وسپارله ..
رتبيلان چې ډېرکلونه دکابل،کندهار،بست اودلوې سېستان جګړوکې دعربوخلاف ودرېدل ..ترهغې،چې ابومسلم خراسانی دامويانوخلاف دعباسيانوملاتړی شو...اوپه پاې کې عباسيانوهغه وواژه اودخراسان پېښوبله بڼه خپله کړه

## خرا سا ن:

دخراسان په تړاوډېروتا ريخپوهانواوڅېړونکوډېرې څرګندونې کړي دي،ولې يوشمېرليکنپوروايتي اوسياسي بڼه خپله کړې ده اوپه روايتونواوشعرونو دومره ټينګارشوی،چې دليکنوله څېړنيزمېتوداومزاج سره اړخ نه لګوي.
دساري په توګه؛فرهنګ؛دعنصري بلخي(ملک الشعرا)شعرته په اشاره،چې دغزنوي سلطان محمودپه ستاينه کې اودهغه پلازغزنه په اړه کښلي،کاږلي دي:

**خدايګان خرسان به دشت پشاور          به حمله ای بپراکندجمع ان لشکر**

دلته لوستونکی نپوهېږي،چې دليکوال موخه دخراسان له نوم نه ددې نوم لرغونتوب دی اوکه ديوه دولت اوهېوادنوم؟ هره خبره چې وي وييه،خوکه يوازې په شعرديوه نوم هويت اوپېژندنه دتاريخي ارزښت پوله ټاکي،ولې يادليکوال بيا په دغه شعرسترګې پټې کړيدي؟:
ابوالفرج روني پخپله قصيده کې داسې ليکلې دي:

**غزوه ګوارنده باد،شا جهانرا          ناصردين،راعی زمين وزمان را**
**موکب منصوراوهنوزبه موهند          برتن افغان تنيده است فغا ن  ر ا**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مسعودسعدسلمان،بیا په دې اند دی:

**نه گفتم چیزیا رب نه جستم چیزجزرستن نه راندم اسب جزپویه ندیدم خلق جز افغا ن**

خاقاني په دې تړاوکښلي دي،چې بختيان(پښتانه)افغان اوخراسان يعني څه؟

**بختیان نفس من که جرس دارشوند ازدهان جرس افغان خراسان يابم**

داسي لسګونه لاسوندونه، بيتونه اوشعرونه مونډلی شو،چي په هغه کي دافغان موجوديت له لرغوني زماني نه راواخله تردې دمه څرګندوی ولي دخراسان حدوداووجوبيا دناڅرګندوي،دخوشحال خان خبره:

**د افغان په ننگ مي وتړله توره ننګيالی د زماني خوشحال ختک يم**

دي کي شک نشته چي څني نومونه دشاعرانولپاره دوپاړلوسمبولونو،استورواوداستعاروبڼه خپله کړي ده ،خوپه تاريخي لاسوندونوکي ديوه هېواد سياسي جغرافيه څپل تعريف لري ..
معاصرتاريخپوهان دېرتينګارپه څېرنيزتاريخ کوي،نه په دې چي ديوسيلاني په څېريوازې دنوم په يا دولوبسنه وکړي ...داځکه،چي په تاريخ ليکنه کي بايد له وګړپوهنې،توکمپوهنې ،لرغونپوهنې اوټولنپوهنې اوله نوروټولنيزواواقتصادي توکونه استفاده وشي .
...څومره چي دخراسان دنوم خبره ده،غوره به وي،چي تاريخي اوجغرافيوي متونوته سرښکاره کړو:
لومړئ خبره دخراسان له نامه نه پيلوو،دېرڅېرونکي په دې انددي،چي خراسان دلمر خاته(مطلع الشمس)په مانا دی خورياني لمر،اسان ياني ځاي .مفاتيع العلوم خوارزمي په دې انددی(72مخ)چي خراسان په پهلوي کي دختيځ په مانا دی...اسلامي پيرکي،ګنوڅېرونکواوتاريخپوهانوهم خراسان دختيځ په مانا ګڼلی دی اولويديځوتاريخپوهانوهم ورته څرګندوني کړيدي ،يوازې په دې توپيرچي خراسان يي دختيځې سيمي په مانايادکړی دی،خودخراسان دجغرافيې په اړه ټول څېرونکي په يوه خوله نه دي .څنويوازې ختيځ لوری،ختيځ پلو،ختيځه څمکه اوختيځ ته په اشاره ...يادکړی دی .څنوڅوښاروڼو اوولايتونوته ځانګړی کړی دی ،چي مورنيشاپور،هرات،مرواوبلخ دبېلګې په توګه يادولی شو..
يوشمېرتاريخپوهانودومره پراخ ګڼلی دی،چي له مينځني اسيا سغدانيپه راواخله ترپارس،افغانستان اوان دهند ترنيمي وچي پورې رسولی دی ..
موسا خورني په پنځمې زېږدي پيړی کي،چي څېرونکي يې مينځپانګه دبطليموس له جغرافيې سره ورته ګڼي،ليکلي دي،چي دايران فلات يي په څلوروبرخوويشلی دی ،لومړئ برخه يي پخپله لويديځ،دويمه برخه يي په جنوب کي نيمروز(سيستان)،دريمه برخه يي په ختيځ کي خراسان اوڅلورمه برخه يي په شمال کي کپکاس په ګوته کړی دی .
نوم ورکي تاريخپوه دسيستان په تاريخ کي دخراسان په اړه داسي ډاګيزه کړېده:
؛څومره چي شمال پلوته څوباختردی،که جنوب خواته څونيمروزدی،ولي مينځنۍ برخه په دوه برخوويشو،که څومره لويديځ لورته څودايران يوشمېرښارونه دی اوکه ختيځ پلوته څو نوخراسان دی...ددايرت المعارف په پنځم ټوک کي راغلي دي ،ألپتګين دلومړي عبدالمالک ساماني (621مخ)له خوادخراسان په سپه سالاري وګمارل شو،دهغه له مرګه وروسته دمنصوربن نوح ساماني له امره سرغړونه وکړه،له خراسان نه دزابلستان اوغزني(350هجري)په لورره شو،چي دغه مهال دغزني واکمن؛لويک؛ وو؛.
داچي دخراسان دنامه پيدايښت له کومې نېټي سره سرخوري غوره به وي،چي دتاريخ په رڼاکي،ددغي کلمي لرغونتوب ته سرورښکاره کړو.:
پارت،سا سان اوخراسان :پارت(پارتيان)دافغانستان له اريايي قبيلوڅخه يوموهم اصلي ټبرو،چي په دويمې مخزيږدي پيړی کي دواک خاوندان شول.دوئ دساکانويوه څانګه اويا دهغوسکه ټبروران وو،چي تاريخپوه غباردغه سلطنتي کورنئ دافغانستان اصلي اريايان ګڼي ...له دوئ څخه ؛ارشاک بلخي؛خراسان ته لاړاوديوه دولت بنسټ يي کېښوداودپارس په هېواد کي(تاريخچه مختصري افغانستان15مخ)ديونانيانوځاي ناستي شول .؛،
پارتيانو،چي په کوموسيموواک چلووه،هغه هېواديي دپارتيا په نوم يادوو،چي څلور خوايي په دې ډول وي ،له هريرودنه دخزرترسمندرګي پورې،چي دمېديا له پولونه پيلېده،په اصل کي له دوه ولا يتونوهيرګانيا اوپارتيا څخه،چي داريانا په شمال لوديځ کي موقيعت درلود،جوړوو.ولي کله په بېلا بېلونومونواوترډېره دپارتياپنوم ياديده ..
دپارت خراسان په جغرافيه کي دغه سيمي شاملي وي،نيشاپور ،طوس،جوين،سبزوار ،شارود،دامغان اودپارس شمال ختيځ ته يوشمېر پرتې ځمکې دساري په توګه يادولی شو.
دارساس کورنۍ وروستی پاچاساسانيانوته دياغي اوباغي خطاب وکړ،که څه هم جنرال اردشېرلاپه درې پړليسي جګړوکي دپارت پاچا؛ارته بانوس؛په ځانګړي ډول په وروستئ جګړه کي داسي ځپلی وو،چي بيا يي د؛سوسپاني؛له ماتي وروسته سرراپورته نه کړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

که څه هم دپارت ؛ارساس؛کورنۍ یوتن دخسروپه نوم په ارمنستلن لس کاله نورهم حکومت وکړ..
احمدعلي خان کهزاددپارتیانوپه هکله په دغوټکوټینګارکوي،چې : ؛پارتیان یوه اریایي څانګه ګڼلی کېږي اویوباختري(پکت،پخت،پختي)ټبردی،په اوستاکې بخدي،چې دبلخ لرغونی نوم دی اوهم په ریګوید کې(وګوری دافغانستان تاریخ377مخ)پکهت=پخت زکرشویدی...ددوئ استوګنځای داریانا په جنوب ختیځ د؛سپیتاګوناګېري؛(سپین غر)په مینځ کې دوئ دپکتیا=پختیا په نوم نامتوشول .؛
دبېستون په ډبرلیک کې دلرغونوپارتیانو(پرتو=پارتو)نوم د؛ت؛ پرځاې ؛ث؛کښل شویدی،یانې پارثیا(پرثو)،چې دپختیا سره اړلګوي .
هېرودوت بیا پارتیان داپریتي په بڼه کاړلي دي،چې ښایي اوسني اپریدي وي .
ساسان،چې وروسته په ساسانیانویادشول،یومشهورشخص وواوپخپله یې له یوې نامتوکورنۍ سره تړاودرلود...ده هغه وخت له سلطنتي؛بزرنجي؛کورنۍ سره اړیکې ټینګې کړې،چې له هغو سره یې خپښي اوخپلوي وکړه .
دساسان دنده دمزدک خدمت وواودده له مرګه وروسته دهغه مزدک مجاور؛پاپک؛دده زوې وټا کل شواودی دبزرنجي کورنۍ خورایی کېده چې دده دباور له وجې زوې یې اردشېردپوځ قومندان شواودپارت پاچا؛ارتابانوس؛ته یې ماته ورکړه،خوکله چې هغه ختیځ ته پرشا شو،دلته دی چې دخراسان کلېمه دبزرانجي سلطنتي کورنۍ په دربار کې یاده شوه،ولې کوم ټاکلی ځاې په ګوته نشو،یوازې دلوري اوطرف په مانا وکا رول شو،چې موخه ترې ختیځ وو،خودغه ختیځ نه خارجي وجود درلوداونه هم جغرافېوي حدود...!؟
کله چې بیاداسلام سپېڅلی دین سیمې ته ورسېداودرېیم یزدګرد،له وېرې داصفهان ختیځ ته مخه کړه،بوځل بیا دخراسان اصطلاح وکارول شوه .
کرستن سن،له اوسني ایرانه یانې له تهرانه نیولې ترالبرزغرونو،همغسې دخزرترسمندرګي،مرو،دپامیرغرونه،هرات دخراسان برخه ګڼلې ده ...(ایران درعصرساساني179مخ) .
په اسلامي پېر کې ابن خرداد،مسعودي،اصطخري،ابن حوقل،احمدبن عمر،ابوزیدبلخي،یاقوت حموي،ناصرخسروقبادیاني بلخي،منوچهري دامغاني اوپه لسګونونورودخراسان په اړه څرګندونې کړې دي،چې په ټوله کې دغه سېمې دخراسان برخه ګڼلی شوې دي :
خوارزم،تاشکند،سمرکند،طاربند،،بخاره،بلخ،نېشاپور،فرغانه،،سغدانېیه،بدخشان،پوشنج،بادغیس،طبسین،طوس،مرو، سرخس اویوشمېرنورې لوې اووړې سیمې یادولی شو.
یزدګردله نهاوندجنګ نه(20هجري)وروسته په مروه کې له ؛ماهوي سوري؛پناه وغوښته هغه مهال چې عبدالرحمان بن سمره دسېستان اوارغنداوپه ناوه کې پرمختګ وکړ،ولې په مروه کې امیربن احمردخراسان یوشمېرسیمې لاندې کړې اویودبل پسې ربیع بن زیادحارثي اوسعیدبن عثمان دخراسان والیان وټاکل شول اوله امورووده پورېوتل ،خوکله چې قتیبه ابن مسلم له سېستانه راوګرځېد دخراسان حکمران وټاکل سواوپه مروکې ځاې پرځاې شو .
ددې خبرې مانا داده،چې دخراسان اوسېستان سېمې سره بېلې وې اوخپل بېل پوځي تشکیل اوجوړښت یې درلود .
لکه څرنګه چې دخراسان حکمران قتیبه له مروې نه مخ په باختراوتخارستان پرمختګ وکړ،خودسیستان په جبهه کې عبدالرحمان بن سمره بست،کش،کندهار،هلمنددارغنداب ترناوې پورې سیمې لاندې کړې .
له درېیم خلیفه نیولې تراموي اوعباسي پېرونوپورې دغه سلسله روانه وه،ترهغې چې ابومسلم،ماهوي سوري،استادسیس هېروي،،حرېش سیستاني،محمد دشدادزوې اوازروبه دمرزبان زردشتي زوې،دطاهرپوشنج اونورومشرئ په افغانستان کې یودبل پسې ملي خوځښتونه اوپاڅونونه مینځته راغلل ...
ددغوملي ازادي ښونکواتلانوپه لړکې یوهم امیرحمزه سېستاني وو،چې دازادۍ ډګرته راووت ...په داسې مهال یې سیاسي ډګرته را ودانګل ،چې سیمه له سېاسي کړکېچ سره لأس وګرېوان وه .
ده دهارون الرشیدوالي عیسی بن علي له واکه وشاړه اوبیا یې زرنج ونیوه...ده غوښته دخراسان پوځي پلا زنیشاپورونیسي،چې له دې لارې عرب جنګیالي اکمالات ونشي کړی ...
امیرحمزه له پرلپسې بریدونووروسته له نېشا پوره بېرته سیستان ته(188هجري) راستون شو.ده په دې پاڅون دعباسیانوټولواکمنۍ سخته وګواښله،داځکه چې په سېستان اوخراسان کې دازادۍ بیرغونه رپانده شول .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ